مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی
۲۰۲۳ / ۰۷ / ۱۰

# د شیخ محمدیانو کلی او پاچا خان

د ۱۳۴۴ کال د تلې میاشتې خبره ده. ما هغه مهال د کامې مرادعلي لېسې په اړوند چې ودانی یې تر کار لاندې وه، د لنډ وخت لپاره د کندیو د شیخ محمدیو په کلي کې زده کړه کوله.
یو سهار د لسو بجو په مهال، نابېره د ښوونځي زنګ په کړنګهار شو. ډنډوره شوه چې زموږ ښوونځي ته فخرافغان راغلو. هلکانو خپل منځ او له ښوونکو پوښتنې پیل کړې چې فخر افغان څه ته وایي او دا څوک دی؟ خو د داسې پوښتنو د ځواب ویلو لپاره وخت پیدا نه شو. ټوله لېسه چې هغه مهال یې یوازې ۱۰ ټولګي بشپړ شوي ول، د سترګو په رپ په منظمو لیکو کې لکه عسکري قطعه د تیارسی په حال کې چمتو شوه. څو شېبې وروسته د ښوونځي مدیر، استادانو او د کامې د سپینږیرو او مشرانو په منځ کې د خپل هېواد د غرونو پشان دنګ، لوړ او غښتلي سړی د لیسې په مخ کې ودرېد.



د لېسې د تیارسی او ارام سی وروسته د لېسې مدیر ایله  دومره وویل: ګرانو شاګردانو ستاسو لېدو لپاره له کوزې پښتونخواڅخه فخرافغان، پاچاخان راغلی او غواړي تاسو سره خبرې وکړي.
پاچاخان د«بچوړوسترې مه شی» په کلام خپله وینا پیل کړه.[1]
لومړی خبره مې دا ده، زه یو وخت بریتانیه ته تللی وم. هلته مې په یو ښار کې له یو سړي نه پوښتنه وکړه، چې ته په قوم څوک یې؟ هغه په ځواب کې راته وویل چې زه انګریز یم. په بل ښار کې مې له بل تن څخه وپوښتل چې ته په قوم څوک یې؟ هغه هم وویل چې انګریز یم او داسې ډېرو نورو  هم یوشان ځواب ووایه. بیا کله چې فرانس او جرمن ته ولاړم، هلته هم د فرانس او جرمن هر وګړي ویل چې زه فرانسوی او جرمنی یم.
خو کله چې زه دلته افغانستان کې په ولایتونو او بېلابېلو سیمو وګرځېدم او له خلکو مې وپوښتل، یوه راته ویل چې زه اوزبک یم، بل راته ویل زه تاجک یم او بل راته ویل زه پښتون یم او داسې نور نور.
بچوړو دا خبره سمه نه ده. هرڅوک چې افغانستان کې اوسیږي، هغه افغان دی. موږ او تاسو ټول افغانان یوو.
دوهمه خبره داده، زه په کابل کې حبیبې لیسې ته تللی وم.هلته مې له یوه شاګرد نه پوښتنه وکړه چې ته په قوم څوک یې؟ هغه راته وویل چې زه افغان یم، ما ترې بیا پوښتنه وکړه چې په افغاني ژبه پوهیږې؟ هغه زما په خبره پوه نه شو او ځواب یې ونه ویلو. نو زه تاسو ته وایم چې که یو قوم پخپله ژبه پوه نه شي او خپله ژبه هېره کړي، هغه قوم ډېر ژر د دنیا پر مخ له بربادۍ سره مخامخیږي. ژبه د یو قوم د هویت څرګندوی ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

درېیمه خبره چې غواړم تاسو ته یې وکړم دا ده، بچوړو تعلیم به کوئ. موږ خدایي خدمتګارو به کله چې کوزه پښتونخوا کې خپلو پښتنو ته د تعلیم خبره کوله، انګریزانو به نه پرېښودولو. دلته خو په افغانستان کې تاسو ټولو لپاره د تعلیم اسانتیا شته او تعلیم وړیا دی، باید تعلیم وکړئ او په هغه کې کوښښ وکړئ!
وروسته تر ډېرو کلونو اوس هم د پاچاخان درېواړه خبرې د هر افغان لپاره د ملي کړنلارې حیثیت لري.
د پاچاخان ټول ژوند او د خدایي خدمتګارو هلې ځلې د خپلواکۍ، ملي هویت، خپلې ژبې او د پښتنو د تعلیم لپاره وقف شوې دی.
«زما د ژوند ښېګړې او نیمګړې» له کتابه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ